# د خان عبدالولي خان شخصیت

## یو تاثر

ډاکټر راج ولي شاه خټک

د یو لوئے سیاستدان په توګه د خان عبدالولي خان شهرت د ملک نه بهر هم خور شوے وۀ بلکې د دربمې دنیا په ملکونو کښې هم پېژندے شو چاته چې د پاکستان نوم هم معلوم نۀ وۀ. د دوي دا شهرت د بې داغه او صفا سوتره او اصول پسند سیاست په حواله وۀ. هر څو کۀ د هغوي د شهرت یو لوئے سبب د هغوي د باچا خان سره رشته هم وه. خو د دې رشتې نه صرف د برصغیر خلق واقف وو. ولي خان تل په خپل عظیم پلار فخر کولو خو د دوي دا تفخر د عامو پښتنو نه څۀ بیل خیز نۀ وۀ. هر څو کۀ خان عبدالولي خان دې افتخار د خپل تشخص نه بې نیازه کړے وۀ. هغوي به خپل سیاست د باچا خان میراث ګڼلو. هغوي په شروع شروع کښې د خپل پلار دغه تحریک مخ په وړاندې بوتلو دپاره د سیاست مېدان ته راوتلي وو او شاید چې تر اخري سلګۍ پورې په هغې اصولو روان پاتې شو کوم چې د باچا خان د سیاست اصول وو. خو تاریخ او د حالاتو جبر د دوي نه د یو بل تحریک رهبر جوړ کړو او هغه وۀ د پاکستان په سیاست کښې د پښتنو د حقونو سیاسي جنګ، د پښتنو د حقونو دې سیاسي جنګ د خان عبدالولي خان نه یو داسې سالار جوړ کړو چې یو طرف ته د باچا خان د عدم تشدد فلسفه او روایتونه وو او بل اړخ ته د پاکستان د شور و شره ډک سیاست. په داسې حالاتو کښې خان عبدالولي خان د خپلې سیاسي دانشمندۍ په ذریعه یو داسې سیاسي توازن جوړ کړو چې د هغې مثال نۀ شي موندے.



د خان عبدالولي خان د سیاسي بصیرت اعتراف د هغوي مخالفین هم کوي او په پښتنو کښې خو هغوي د خپل ژور سیاسي بصیرت له کبله د «ژوندي ولي» په نوم مشهور شوي وو. د پاکستان په تاریخ کښې به ډېره کمه داسې واقعه شوې وي چې د هغې د پېښېدو نه مخکښې هغوي د هغې پېش ګوئي نۀ وي کړې. په حالاتو د ژور نظر لرلو او د ډېرې ښې او بې مثاله مشاهدې په ذریعه به چې هغوي کومو واقعاتو ته وړومبۍ اشاره کړې

وه او خپل قوم به ئې د هغې د خطرو نه ډېر وړومبے خبر کړے وۀ. دغه پېښې به ځکه هم رامنځ ته کېدې چې د هغوي مخلصانه مشورو له به د وخت ناعاقبت اندېشو حاکمانو هیڅ توجه نۀ ورکوله. خو هغوي به په هره موقعه پښتانۀ خبرول. هغوي چې کومې خبرې ډېرې پخوا کړې دي د هغې اثرات تر اوسه پورې ظاهرېږي. په برصغیر کښې چې څۀ نن سبا پېښېږي د دې نشاندهي هغوي ډېره مخکښې کړې وه. افسوس د دې خبرې دے چې د هغوي زیات تقریرونه محفوظ کړي شوي نۀ دي ګني نو د نن د سیاسي طالب علم دپاره به هغه ډېر د کار او فائدې ثابت شوي وو.

خان عبدالولي خان تر اخري دمه د ملک د بچ کولو کوشش کړے وۀ ولې سازشي عناصرو عوام ګمراه کړل. اوس دا فېصله کول ډېر ګران دي چې په راروان وخت کښې پاکستان د کومو حادثو ښکار شو، د هغې ذمه وار عوام وګڼلے شي یا د هغې لیډران؟ یو مؤرخ به دا فېصله خامخا کوي. ځکه چې د لیډرانو طور طریقې خو څۀ نا څۀ بدلېدونکې په نظر راځي خو د عوامو سوچ او فکر اوس هم هغه دے. وائي چې خان عبدالولي خان به رښتیا وئیل. نو په داسې وخت کښې بنده بغېر د دې شعر نه نور هیڅ نۀ شي وئیلے:

یه خارزار، جهان پر هزارون آبلے پهوټے
نهین ټوټے مگر یه سنگدل کانټے نهین ټوټے

خان عبدالولي خان د ملکي سیاست په اهمو دورونو کښې د ملک او قوم بچ کولو په خاطر ډېر زیات جدوجهد کړے وۀ. تر دې چې خپل نور شخصي صفتونه ئې په سیاست قربان کړي وو. تر څو چې باچا خان ژوندے وۀ نو په هره یوه مسئله به ئې د هغوي نه رائې اخستله. باچا خان خپله په پاکستاني سیاست کښې فعاله برخه نۀ وه اخستې او نۀ ئې ځان ته سیاستدان وئیل خوښول. هغه خو د اولې ورځې نه خدائي خدمتګار وۀ او تر اخري وخته خدائي خدمتګار پاتې شوے وۀ. البته د برصغیر سیاسي تاریخ بغېر د هغوي د سیاسي کارنامو نه مکمل نۀ شي ګڼلے کېدے. هغوي د برصغیر د ازادۍ دپاره جدوجهد کړے، تکلیفونه او سختۍ ئې زغملې او د خپل ژوند د ټولو نه قیمتي وخت چې د ځوانۍ زمانه وي هغه ئې په جېلونو کښې تېره کړې ده خو ملک ئې ازاد کړے دے او د هغې په بدل کښې چې د هغوي سره کوم سلوک شوے دے هغه ډېر تریخ دے. د دواړو لویو سیاسي ډلو یعني کانګرس او مسلم لیګ باره کښې یو شاعر دا شعر لکه چې د دوي دپاره وئیلے دے:

نیرنگـئ سیاست دوران تـو دیکهیـئے
منزل انهین ملي جو شریک سفر نه تهے

یا بیا د پښتو دا ټپه شاید د دوي دپاره د چا له خُلې وتلې ده چې:

د عاشقۍ بازاره وران شې
جوړ کړے ما وې سودا نور در کښې کوینه

خو باچا خان بیا هم د ملک او قوم د خېر ښېګړې دپاره خان عبدالولي خان د سیاست ازغنو لارو ته راووېستو. باچا خان هم شاید چې د ولي خان په ذات کښې موجودې خوبۍ لیدلې وې چې د هغې په ذریعه به هغه د باچا خان د ژوند مشن یعني د پښتنو د حقونو تحفظ او د پاکستان د ګند او غلاظت نه ډک سیاست صفا کولو کښې یو غوره

کردار ادا کړے شي او دا دواړه ذمه واري خان عبدالولي خان چې په څومره ښکلې طريقه تر سره کړې هغه صرف په آئنده وخت کښې يو ديانتدار سياسي مؤرخ ليکلے شي.

وړاندې له دې نه چې د ولي خان د پښتنو د بېدارولو په لړ کښې د هغوي د کردار او بصيرت جائزه واخستې شي په مختصرو لفظونو کښې د هغوي د هغو کوششونو چې د جمهوريت د خورولو او د ملک د سلامتۍ دپاره ئې کړي وو، ذکر وکړم.

د پاکستان جوړېدو نه پس چې کله سازشي عناصرو د محلاتي سازشونو جال خور کړو او د وخت حاکمان د خپلو وعدو نه وجاروتل، په ملک کښې ئې فسطائيت له فروغ ورکول او جمهوري اقدار ئې د پښو لاندې کول شروع کړل نو باچا خان د ملک د نورو روښان فکرو او جمهوريت پسندو مشرانو سره په شريکه د نېشنل عوامي پارټۍ بنياد کېښود. ظاهره خبره ده چې دوي په ملک کښې د جمهوريت خورولو او د عوامي حقونو د حاصلولو دپاره سرګرم وو. د دې پارټۍ مشرانو سره چې کوم سلوک وکړے شو، هغه د تاريخ برخه ده. خو کله چې د دې پارټۍ د ذمه وارۍ بوج د خان عبدالولي خان په اوږو راپرېوتو نو ورځ او شپه ئې د دغې پارټۍ د پليټ فارم نه په ملک کښې د جمهوري قدرونو د خورولو او په يو سخت وخت کښې د ملک د بچ کولو دپاره يوه زبردسته مبارزه وچلوله. د قيوم خان او ايوب خان د امريت په دوران کښې په دوي بې انتها ظلمونه وشو خو د دوي په همت کښې ئې هيڅ کمے را نۀ وستے شو، تر شپږو کالو پورې په جېل دننه وساتلے شو، د دوي منقوله او غېرمنقوله جائداد ضبط کړے شو، د دوي بچي ئې د کوره وويستل او په دوي ئې د دروغو مقدمې جوړې کړې، غدار ورته ووئيلي شو غرض دا چې هر يو الزام ئې پرې ولګولو. خو د باچا خان زوے وۀ د خپل مرام او موقف نه يوه ذره وروستو نۀ شو. مسلسل ئې د پښتنو د حقونو حاصلولو او د ملک د بقا دپاره مبارزه جاري وساتله. همېشه ئې د حق ملګرتيا وکړه، باوجود د دې ئې د ايوب خان په آمرانه دور کښې د عوامو د بېدارولو او په هغوي کښې د سياسي شعور راپېدا کولو دپاره جدوجهد کولو. کوم چې اخر د ايوب خان د آمريت د زوال سبب جوړ شو. خو د دې کرېډټ هغو خلقو واخستو چې ايوب خان سره په آمريت کښې شامل وو. د ون يونټ ختمول هم د خان عبدالولي خان يوه لويه مهرباني ده. د هغو خلقو چې د ون يونټ په ختمولو کښې ئې هيڅ کردار نۀ وۀ ادا کړے. د جنرل يحيٰي خان په وخت کښې چې کله ملک په خطرو کښې راګېر وۀ نو ولي خان وۀ چې دۀ دغې حالاتو له اوړه ورکړه. دغه وخت خان عبدالولي خان د سترګو د علاج دپاره انګلېنډ ته تللے وۀ چې دلته ملک کښې لوئے غوبل جوړ شو. د ملک ټول سياستدانان وېرېدلي وو او دړکه ورکړې شوې وه چې څوک هم مشرقي پاکستان ته د اسمبلۍ اجلاس له لاړل نو پښې به ورله ماتې کړو. تر دې چې صدر صاحب د اسمبلۍ اجلاس راغوښتے وۀ او خپله ئې بيا معطل کړو. شايد چې د ولي خان نه سېوا بل سياستدان دا جرات نۀ شو کولے چې مشرقي پاکستان ته لاړ شي او شېخ مجيب الرحمان ته د ملک د بچ کولو خبره وکړے شي.

خان عبدالولي خان به د شروع نه د صوبائي خودمختارۍ خبره کوله. دې خلقو په هغوي الزام

ولګولو چې دې د شېخ مجيب الرحمان د شپږو نکاتو حمايت کوي حالانکې وروستو خپله دوي نهٔ صرف دغه شپږ نکتې ومنلې بلکې د ملک ماتېدو نه پس ئې باقي پاکستان کښې هم د صوبائي خودمختارۍ خبره کوله.

د خان عبدالولي خان د دې سياسي بصيرت نه به څوک انکار کوي چې هغوي ډېر مخکښې د دې خبرې نه حکومت او عوام خبر کړي وو چې کهٔ د صوبائي مختارۍ خبره ونهٔ منلې شوه نو ملک ماتېدے شي. د هغوي په دې خبره پورې چې کومو خلقو ټټوبې کړې وې هغوي خپله د ټوقو ښکار شو. خان عبدالولي خان د دې ملک د بچ کولو په خاطر د جنرل يحيٰي خان په وېنا د سترګو علاج نيمګړے پرېښود او واپس راغلو چې وروستو ورله هم دغې جنرل په پارټۍ پابندي ولګوله. تراوسه پورې چا د دې اعتراف جرات نهٔ دے کړے چې چا د دې ملک د بچ کولو کوشش کړے دے او چا دا سازش تيار کړے وهٔ او څوک ئې تماشې ته ناست وو. اوس پاکستان صرف مغربي پاتې وهٔ چې په څلورو صوبو کښې ئې په دوو کښې د نېشنل عوامي پارټۍ اکثريت وهٔ. دا اکثريت چې څنګه نظر انداز کړے شو، هغه ډېره اوسنۍ خبره ده ځکه چې تفصيل کښې د تلو ضرورت نشته. خو خان عبدالولي خان د سياسي حريف په توګه ذوالفقار علي بوټو ضرور خبر کړے وهٔ چې د دې انجام به ډېر خراب وي. ملک چې کله ډېر خراب فسطائيت پله روان شو او په ټول پاکستان کښې د ايف ايس ايف او عوامو جنګونه شروع شو نو داسې حال کښې بيا ولي خان د جمهوريت دپاره د جمهوريت پسندو راهنمائي شروع کړه او د متحده جمهوري محاذ په نوم ئې نورې سياسي ډلې د ځان سره کړې او يو تحريک ئې وچلولو او د دې خبرې نه هم انکار نهٔ شي کېدے چې د دې محاذ اصل د پښتنو وهٔ او د قصه خانۍ بازار هغه جلسه شايد چې هر چا ته ياده وي چې پکښې مولانا بجلي ګر د رحمان بابا دا شعر په خوږ او دردناک انداز کښې وئيلے وهٔ چې:

تهٔ چې هره ګړۍ غم د سيم و زر خورې
زهٔ دې هره ګړۍ وينم چې خپل سر خورې

د ضياء الحق د مارشل لا دوران کښې خان عبدالولي خان د ايم آر ډي په ذريعه د جمهوريت د بحالۍ تحريک وچلولو. ولې دې تحريک سره پښتانهٔ د تاريخ يوې بلې لويې حادثې سره مخ شو. افغانستان کښې د ثور انقلاب راغے، په لکونو افغانان پښتونخوا ته په کډه راغلل. د روس او امريکې د رقابت جنګ شروع شو او د جنګ دپاره د پښتنو زمکه خوښه کړې شوه. ولي خان ته د دې خبرې ډېر شديد احساس وهٔ چې اوس د عالمي سياست وخت راغے ځکه چې عالمي سياست اوس د هغهٔ کور ته رادننه شو. پښتانهٔ په مهاجر کېمپونو کښې وساتلې شو.

خان عبدالولي خان د ژوند يو داسې دوه جنګې ته راورسېدو چې يو طرف ته پښتانهٔ او بل طرف ته ملکي سياست او بين الاقوامي سازشونه وو.

په دې موقع زهٔ دا خبره واضحه کول غواړم هر څوک کهٔ دا زما خپل خيال دے. هغه دا چې خان عبدالولي خان د پاکستان سياست ته By default راغلے وهٔ، هغه په بنيادي توګه قوم پرست وهٔ. هغوي خپل سياست د پښتنو د اتحاد او اتفاق او د هغوي د حقونو ګټلو دپاره شروع کړے وهٔ. هغوي د

باچا خان د جانشين په حېثيت د هغوي د اصولو مطابق د پښتنو د راهنمايۍ دپاره سياست ته راغلي وو او اصل مقصد ئې په پښتنو کښې سياسي او سماجي شعور پېدا کول وو. هغوي د پښتنو دپاره قومي شناخت غوښتلو، هغوي د پښتنو بېداري غوښتله، هغوي د پښتنو زمکې د سيب او زيم نه بچ کول غوښتل، خو د دې نه ډېر وړاندې پښتانهٔ تقسيم کړې شوي وو.

خان عبدالولي خان يو نظرياتي سياستدان وهٔ. د هغوي دپاره پښتون پښتون وهٔ کهٔ هغه د دنيا په هر گوټ کښې وهٔ، هغه کهٔ د هر ملک اوسېدونکے وهٔ، هغه د هغوي دپاره پښتون وهٔ او د هغهٔ دپاره ئې مينه او درد لرلو. دغه وخت کله چې پښتانهٔ د يوې بلې تاريخي حادثې ښکار شوا و د دوو لويو عالمي قوتونو ترمنځ راگېر شو. نو خان عبدالولي خان د خپلې خاورې غم په مخه واخستو. هغوي به د افغانستان نه راتلونکي پښتانهٔ ورونه پوهول چې دا جنگ په حقيقت کښې د دوو لويو قوتونو جنگ دے او تاسو پکښې په منځ کښې دلېږئ. خو يو خوا هغوي ته دغې مهاجرو له د نزدې ورتلو اجازت ور نهٔ کړے شو، له دې وجې نه چې عالمي قوتونو دا جنگ د مذهب په نوم کول غوښتل. ځکه چې هغوي په صدو محيط بشري علمونه لوستلي وو او په دې خبره رسېدلي وو چې پښتانهٔ په مذهب هر څهٔ قربانوي ځکه چې مذهب د دوي ننگ دے.

د خان عبدالولي خان مقابله کښې مذهبي سياسي ډلو له ښکاره اجازت ورکړے شو چې هغوي پښتانهٔ د مذهب په نوم گمراه کړي او وې جنگوي. چونکې دا پښتانهٔ د ډېرو مسئلو سره مخ وو چې پکښې لويه مسئله د معاش هم وه. له دې وجې نه ولي خان نهٔ غوښتل چې د دوي مصيبتونه نور زيات شي. ظاهره ده کهٔ ولي خان د هغوي د پوهولو دپاره هغوي له ورتلې نو بيا به حکومت او نورو طاقتونو هغوي له امداد نهٔ ورکولو. ځکه نو خان عبدالولي خان د انټرويو او اخباري بيانونو په ذريعه دغه خلق خبرول. د هغوي په زړونو کښې شکونه او غلط فهمۍ هم پېدا شوې وې. خو د جنگ د ختمېدو نه پس هغوي ته دا احساس وشو چې باچا خان او ولي خان څهٔ وئيل هغه حقيقت وهٔ؟ په شمشتو کېمپ کښې د گل بدين حکمتيار هغه تقرير شايد چې هر بنده ته ياد وي چې پکښې ئې وئيلي وو چې پښتانهٔ له منځه وړلے شي. حالانکې دا گلبدين يو کټر مذهبي، بنياد پرست او د نېشنل ازم سخت مخالف وهٔ. گل بدين له اعتراف کول پکار وو چې ولي خان څهٔ وئيل هغه صحيح وو. د خان عبدالولي خان د بصيرت اعتراف اوس کولے شي خو:

سپرلے به بيا په گلو راشي
د نادانۍ عمر چې تېر شي نهٔ راځينه

د ايم آر ډي د تحريک سره سره خان عبدالولي خان په افغان سياست کښې هم تر څهٔ حده مصروف پاتې شوے وهٔ او دغه وخت ايجنسو سره فکر پېدا شو چې د ولي خان لاره څنگه ونيسي. نو څنگه چې دا خلق په سياسي مېدانونو کښې د خپلو کمالاتو مظاهرې کوي، دې ايجنسو په کال ۱۹۸۸ کښې ولي خان له په انتخاباتو کښې د ماتې ورکولو منصوبه جوړه کړه. چې تراوسه ئې يو سياسي مبصر څهٔ توجيه پېش نهٔ کړې شوه. تر دې چې خپله خان عبدالولي خان هم په دې پوه شوے نهٔ وهٔ. هغه داسې چې ولي خان ته د خپلې حلقې د قومي

اسمبلۍ کوم ووټونه ملاو شو هغه د هغوي مدمقابل غړي نه کم وو نو په دې وجه هغوي ووټونه بائلل. خو عجيبه خبره دا ده چې بېخي هم په دغو شمېر ووټونو د صوبائي اسمبلۍ ټولو اميدوارانو ووټونه وګټل. اوس سوال دا پيدا کېږي چې کۀ وړومبے شمېر winning number وۀ نو بيا ولي خان څنګه بائله؟ او دې سره هغوي د عملي سياست نه لاس راښکلو.

شروع کښې ذکر شوے وۀ چې خان عبدالولي خان خپل ډېر شخصي او ذاتي صفتونه شاته غورځولي وو. د هغوي په ذات کښې ډېر لوئے لوئے کمالات وو. هغه د يو ژور سياسي بصيرت مدبر وۀ. هغه يو شغله بيان مقرر وۀ. د هغوي تقريرونه به د موسيقۍ په شان خوارۀ وو، د ظرافت حس ئې ډېر زبردست وۀ، متلونه او ټپې ورته بې شمېره يادې وې او په وخت د استعمالولو هنر ئې هم زده وۀ. ماته ياد دي کله چې پښتو اکېډمۍ د پښتو ټپو مجموعه شائع کوله نو د ټولو نه لويه مجموعه ولي خان ورکړې وه. خان عبدالولي خان د يوې اوچتې درجې د ادبي ذوق خاوند وۀ. د خوشحال بابا بې شمېره شعرونه ورته ياد وو او په شاعرانو کښې د خوشحال بابا نه متاثر وۀ. ځکه چې د هغوي د قوم پرستۍ نظريه د خوشحال بابا د قوميت د فلسفې تسلسل او عملي شکل وۀ. هغوي به پښتانۀ د راتلونکي آفت او مصيبت نه ډېر مخکښې خبرول او د دې مقصد دپاره به ئې د خوشحال بابا دا شعر اکثر په تقرير کښې پېش کولو:

کۀ هزار کاندې پښتون به مغل نۀ شي
بويه دا چې له زړۀ وباسي دا خيال

د يو معياري محقق په طور هغوي په خپل مشهور او معروف کتاب Facts are facts د ټولې دنيا نه خراج تحسين وصول کړے دے. د سياسي سوانح نګارۍ په مېدان کښې تر اوسه پورې ليکلے شوے څلور جلده کتاب «باچا خان او خدائي خدمتګاري» يو داسې کتاب دے چې مثال نۀ لري. په اردو او پښتو کښې د هغوي د تخليقي نثر نمونې په مختلفو کتابونو کښې موجودې دي. د يو ادبي نقاد په حېثيت چې به هغوي د غني خان د نظمونو تنقيدي جائزه پېش کوله د هغې ګواهان هغه پښتانۀ اديبان دي چا چې د غني خان سره يو ماښام کښې خان عبدالولي خان اورېدلے دے.

خان عبدالولي خان د يو همه ګير شخصيت مالک وۀ. په دليل او منطق کښې لاثاني وۀ. د دوي دليلونه به دومره درانۀ او پاخۀ وو چې مخالفين به ورسره د ملاقات کولو نه ويرېدل. د دوي حاضر جوابي ډېره زياته مشهوره وه. لوئے لوئے ليډران به ئې اکثر لاجوابه کول. د هغوي سياسي بصيرت، بهادري، شجاعت او د پاک دامنۍ باره کښې ډېر څۀ ليکلے کېدے شي خو د وخت د کمي له وجې صرف د حبيب جالب دا شعرونه چې د هغۀ په کتاب کښې د «ولي خان» په عنوان سره راغلي د هغوي د عظمت د اعتراف په توګه پېش کوم.

میرے کاروان میں شامل کوئي کم نظر نہیں ہے
جو نہ مٹ سکے وطن پر میرا همسفر نہیں ہے
کسي سنگدل کے در پر، میرا سر نہ جھک سکے گا
میرا سر نہیں رہے گا، مجھے اس کا ڈر نہیں ہے
در غیر پر همیشه، تمھیں سر جھکائے دیکھا
ایسا کوئي داغ سجده میرے نام پر نہیں ہے